# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



هارون خیل شعشعی


۱۱/۰۲/۱۸

## افغانانو ته د تونِسي او مِصري پاڅون درسونه

نړۍ والو له څو هفتو راهیسي په تونس او مصرکي د داسي سوله ییزو ولسي پاڅونو ننداره وکړه،چي بشري تاریخ یې تر اوسه په هیڅ ځای کي مثال نه ؤ لیدلئ؛ نوځکه بې ځایه نه ده، چي نن د زړورو او باشعوره تونسیانو او مصریانو په سربښندنو اوحماسو، نه یوازي د دغو هیوادو هودمن او مېړنـي وګړي، بلکي د ټول جهان ازادی غوښتوونکي ولسونه ویاړي . دادی د الجزایر، یمن، اُردُن، بحرین، لیبیا او ایران ننګیالي خلګ همدا اوس د تونس او مصر له ولسي پاڅونو څخه په الهام اخیستلو د خپلو فاسدو او مستبدو واکدارانو په وړاندي د مبارزې ډګرته را وتلي دي؛ او ډېر ژر به دا لړۍ پر عربي هیوادو سربېره د نړۍ نورو ویښو ولسونو ته هم وغزېږي .که له حقیقته سترګي پټي نه کړو، د تونس او مصر اتلو خلګو په اتلسو ورځوکي دونه لاړ ووهله، چي موږ افغانانوپه دېرشو کالوکي نه ده وهلي . دا څنګه ممکنه ده؟ په لاندنیو کرښوکي د دې پوښتني پر ځینو اړخونو غَور کوو.

هو! په دې واقعیت هرڅوک پوهیږي، چي افغانانو د اسلام پالني، خپلواکی، ملي واکمنی او ولسواکی په لار کي تر تونسیانواو مصریانو ډېري قرباني ورکړي دي . زموږ دری میلیونه شهیدان، معیوبین او معلولین، د تونسیانو او مصریانو تر څوسوه شهیدانو او ټپیانو، په وارو وارو زیات دي . په افغانستان کي د مستبدو اویرغلګرو رژیمونو د زور زیاتي له کبله زموږ شاوخواپینځو میلیونو هیوادوالوخپل کلي اوکورونه پرېښوده؛ او په پردو هیوادو کي د پردېسي، سرګردانی او بې قدری ژوند ته اړ سوه . په دې حساب هم زموږ د مهاجرو شمېر د تونس او مصر تر جلاوطنه خلګو زرګونه واره ډېر دئ . تر دې مسألې چي تېر سو، زموږ ښوزله جونګړه په تېرو دېرشوکالوکي د ټپل سوو جګړو او ظالمانه لاس وهنو په وجه داسي لولپه سوه، چي تونس او مصر یې د فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي ضایعاتو له پلوه، په میلیونمه زیان هم نه دئ لیدلئ . که خبره په دې کي هم نه ده، نو تونسیان او مصریان تر افغانانو په څه زړور او غښتلي دي، چي په څو اوونیو کي یې دېرش کلني لاري ووهلې؟

که د زړورتیا او غښتلوالي خبره وي، ښایي د افغانانو حماسي او ویاړني په نړۍ کي ساری و نه لري؛ څکه ټول جهان ته مالومه ده، چي همدې بې باکو او سرکښو افغانانو په تشو لاسو د یرغلګرو روسانو پر ټانکونو ور وځغستل؛ له خپلو سرونواو هست و نیست سره یې لوبې وکړې؛ او په پای کي یې خپله سپېڅلې خاوره د پردو له

ناپاکو قدمونو پاکه کړه . اوس هم همدغه پاړېدلي او خروښېدلي خلک د نړۍ له تر ټولو سمبالو او ځواکمنو اشغالګرو پوځونو سره په داسي مړانه او بې باکی مقاومت کوي، چي خپل او پردي يې ټول هک پک کړي دي . په دي کي هيڅ شک نسته، چي د دي سرلوړي هيواد هر دښت او دره، هر کلی اوکوڅه تل تر تله زموږ د غيرتي او مېړني ولس پر نه هېرېدونکو حماسو اوکارنامو شاهدي ورکوي .

ښه نوکه خبره نه په قربانيو او سرښندنو ده؛ او نه په زړورتوب او بهادريو، بيا نو د تونسيانو او مصريانو د بري او زموږ د ناکامی راز په څه کي دئ، چي دوی په اتلسو ورځو کي زموږ د دېرشو کالو لار ووهله؟ په دي لنډکی ليکنه کي ګورَو همدې ارزښتناکي پوښتني ته د جواب موندلو هڅه کوو.

ما عاجز ته خو د تونسيانو او مصريانو په ولسي پاڅونوکي د دې اريانوونکي بري راز د هغو له پوهي، هوښيارۍ، يووالي، لوړ نظم او لوړو اخلاقي معيارونو پرته، په بل څه کي نه ښکاري . موږ ټول شاهدان وو، چي په مصر کي ګرده ولس ياني د پوهنتونو استادان او محصلان، د مکتبو ښوونکي او شاګردان، د روغتونو ډاکټران او نور طبي کارکوونکي، د مدني ټولنو غړي، ليکوال، شاعران، ژورناليستان، هونرمندان، د بانکونو او نورو تجارتي مؤسسو مأمورين، د فابريکو کارګران،کسبګران او د ټولني عام خلک له دين، مذهب، قوم، ژبي، سيمي، جنس، سياسي تشکيلاتو، فکري جوړښت، ټولنيز دريځ او نورو بېلوونکو عواملو پرته تر يوه بيرغ لاندي په « تحرير ميدان » کي سره را غونډ سوه . دا مو هم وليده، چي په اعتراض کوونکو کي د« اخوان المسلمين » د سازمان پر غړو سربېره، عيسويان او د بېلابېلو سياسي، اجتماعي او فرهنګي سازمانوغړي او پلويان هم ولاړ وه . تر دې مهمه او خوندوره لا دا چي د دغو مخکښو ځواکونو تر څنګ د ټولني عامو وګړو( نارينه وو، ښځو، زړو، وړواو ځوانانو) هم په يوه آواز د مُبارک د فاسد او مستبد رژيم د نسکورېدو شعارونه ورکول .

په دې توګه، د مصريانو په ولسي پاڅون کي د فرهنګي، اجتماعي، سياسي او فکري نظريو بېلوالی د هغه پاڅون د خوروړتيا او کمزورۍ سبب نه، بلکي د پياوړتيا او برياليتوب اساسي راز ؤ . دا واقعيت هر چا ته څرګند دئ، چي د« اخوان المسلمين » يا نورو اسلامي ګوندونو غړو په يوازي سر هيڅکله دونه توره نسوای کولای . دا خبره هم موږ ټولو ته مالومه ده، چي تونسي او مصري پاڅونونه په خپلو هيوادوکي د يوه لوړ ملي ارمان د تحقق له پاره مبارزه کوي . دا ستر ملي او ولسي ارمان د فاسدو، ظالمو او بې کفايته رژيمونو نړول؛ او د آزادو او شفافو انتخاباتو له لاري د يوه خپلواک، ولسي او عادلانه نظام جوړول دي . بې شکه، دا ګډ ارمان د ټولو تونسيانو او مصريانو ستر انساني، اسلامي اوملي ارمان دئ . ټولي نړۍ دا هم د تلوېزونو پر پردو وليده، چي د ښځو او کوچنيانو په ګډون ټولو معترضو مصريانو دې لوړ انساني او وطني ارمان ته د رسېدو له پاره، په ګډه دحُسني مُبارک د مستبد رژيم د پوليسو، لوچکانو او ډانګيانو ګوليو، ډنډو، اوښکي بهوونکي ګازونو، د ډبرو وارونو او نورو ناروا بريدونوته ځانونه ټينګ کړه . تر بري وروسته يو ځل بيا هم ټولو( نارينه وو او ښځو) په ګډه د لوړو اخلاقي معيارونو په ښوولو سره د« تحرير ميدان » او نورو واټونو په پاکولو او تنظيمولو کي فعاله برخه واخيسته . دې ته وايي يووالی، دې ته وايي نظم او دې ته وايي لوړ شعور او ژوره هيوادپالنه .

د همدې استدلال له مخي، د مصر ولسي انقلاب، په بشپړ باور سره د اعتراض کوونکو د ويښ والي، يوموټي والي، هوښيارۍ، نظم، دسپلين او لوړو اخلاقي موازينوتر ټولوعالي او بې ساري مثال ؤ. زما په ګومان دا هغه لويه او مُهمه ځانګړتيا ده، چي په تېرو يودېرش کالوکي د افغانانو وسله وال او غير وسله وال مقاومت د تونس، مصر ، الجزاير، يمن، اُردُن او داسي نورو هيوادو له پراخو سوله ييزو او ولسي پاڅونو څخه بېلوي . دا خبره دقيقه ده، چي په تېرو يو دېرش کالوکي د پردو خونړيو تېريو او خاينانه لاسوهنو په افغانانو کي بېلابېلو سياسي،

فکري او فرهنګي درزونو ته لاره هواره کړه؛ د جنګ کورني او بهرني سوداګران تر ګرده کوښښ کوي، چي د دوښمنييو، تعصبونو او بې باورييو دې اور ته نوره هم لمن ووهي . له دې امله خلګ له سياسي او فکري پلوه، په خواشينی سره، پر ډېرو ډلو او ډلګييو وېشلي دي .

دې شرايطو او حالاتو ته په پام سره اساسي پوښتنه دا ده، چي افغانان به د خپل هيواد او ولس د ژغورني له پاره څنګه د تونسيانو او مصريانو په څېر د سياسي بلوغ پر لور ګام اخلي؟ څنګه به ګرده له هر راز توپيرونو او اختلافونو پرته، د خپل ګډ ملي ارمان د پوره کولو له پاره، په يوه مورچل کي سره را ټوليږي؟

د عيني شرايطو له اړخه خو افغانستان تر هر بل عربي يا غيرعربي هيواد، د يوه پياوړي ولسي پاڅون زېږولو او بريالي کولو ته چمتو دئ . درسته نړی ګوري، چي زموږ کړېدلي او اسکېرلي خلګ هره ورځ په وينو او اورونو کي ژوند کوي . لوږه، بېکاري، بې کوري، زور زياتی، غلا، چور، د خپلو او پردو بې رحمانه وژني، ناامنی، محبسونه، څورَوني، د شپي او ورځي تلاښی، تښتوني، د کورونو، دوکانونو، باغونو او نورو شتمنيو له منځه وړل او نړول ، ډول ډول ملنډي اوبې عزتی هغه څه دي، چي ټول افغانان له شماله تر جنوبه، له شرقه تر غربه ورسره لاس اوګرېوان دي د فرعوني لښکرو اوجابرو واکدارانو د ظلمونو اوخيانتو په وجه هره ورځ زموږ پر مظلومو او رټېدلو خلګود قيامت شپي تېرېږي؛ خوپه ګرده هيوادکي داسي څوک نسته، چي پرکړېږو او بوغارو يې غوږ ونيسي!

په دې ډول، له څو تېل سوو خاينو واکمنانو او جنايتکارو مافيايي ډلو پرته ټول ملت، ولسي پاڅون ته تيار دئ؛ د ټولو وينو، با احساسو او دردېدلو افغانانو زړونه د باروتي بمونو په څېر چاودېدو ته چمتو دي؛ اما افغانان بايد د خپل سوله ييز ولسي پاڅون د بريالي کولو له پاره تر هر څه مخکي د تونس او مصر له خلګو زده کي، چي نفاق او شقاق هغه توخمونه څنګه له منځه يوسي، چي د سُني او شيعه، پښتون او تاجک، هزاره اواوزبک . . .، پارسي او پښتو، شمال او جنوب، دې او هغه سياسي فکر يا دې او هغه سياسي ګوند په نامه زموږ په خلګوکي کرل سوي دي . افغانان بايد په دې واقعيت ښه سرخلاص کړي، چي په افغانستان کي هيڅکله د پښتانه، تاجک، هزاره، اوزبک، پشه يي، نورستاني، هندو، سيک او نورو مېشتو قوموترمنځ دوښمني او اختلاف نه ؤ، نه سته او نه به وي . دوښمني او اختلاف يوازي د ظالمو او مظلومو يا حاکمو او محکمو ډلو تر منځ دئ . پرون هم همداسي وه، نن هم داسي ده او سبا به هم داسي وي . تر افغانستان ها خوا، په ټولو نورو هيوادوکي هم دغه زرين اصل چلېږي . بايد هېر نه کړو، چي په اوسنيو شرايطو کي زموږ د ټولني اساسي تضاد همدا تضاد دئ . په ظالمه يا واکمنه ډله کي، لکه څنګه چي ګورو، بهرني پوځونه، د هغو خاين او جنايتکار واکمنان، بېلابېلي مافيايي ډلي، بهرني ايجنټان او جاسوسان را غونډ دي، چي د هيواد په ګوټ ګوټ کي يې پر خلګو د نېستي او بېوزلی ژوند زهر کړی دئ . د يرغلګرو پوځونو، کرزي، رباني، سياف، فهيم، خليلي، اسماعيل خان، قانوني، عبدالله، محقق، دوستم او داسي نورو ګټي نه بېلېدونکي دي . په مظلومه يا رټېدلي ډله کي د افغانستان له پښتنو، تاجکانو، هزاره ګانو، اوزبکانو، پشه يانو، نورستانيانو، هندونانو، سيکانواو داسي نورو ورونو قومونوڅخه ټول بېوزله او تر پښو لاندي خلګ ځای لري .

لکه څنګه چي تونسيانو او مصريانو په ګډه د « بن علي » او« مُبارک » د مستبدو نظامونو د را پروزلو شعار ورکړ، زموږ خلګ هم بايد په دې پوه سي، چي له اوسني ويرلړلي او بدمرغه حالت څخه د هيواد د ژغورني يوازنی لار همدا سوله ييز سراسري ولسي پاڅون دئ . تر هغه وختـه،چي يرغلګرو پردو او دهغو جنايتکارو، فاسدو او بې کفايته مزدورانو زموږ د رېږېدلو او رټېدلو خلګو پر سر، مال او ناموس منګولي لګولي وي، دې

وراني مېني ته د سولي او امنيت راتګ ناممکن دئ . بېله شکه، تر هغه مهاله چي سوله او امنيت نه وي راغلئ، هيڅ کړېدلی افغان هم د خوښۍ او نېکمرغی مخ نسي کتلای . ترڅو زموږ خلګ دا روښانه واقعيتونه په ټوله ماناو نه پېژني؛ او په دې توګه د سياسي بلوغ او پوخوالي يوه نوي او پرمختللي پړاو ته ګام پورته نه کړي، موږ ګرده افغانان به د جګړې، ناامنی، خيانت، غلا، چور، فساد، بې عدالتی او بې کفايتی په اورکي سوځو.

د زورواکانو له خوا د بيت المال اوبې وسه خلګو د شتمنييو لاندي کول اوس دونه عادي خبره ده، چي هيڅوک سر نه په خوږوي؛ دتش په نامه جمهوری رياست، ولسي جرګي او مشرانو جرګي د شرمېدلو او خندنييو انتخاباتو بهير هم ټولو افغانانو وليد؛ دا تريخ او دردناک حقيقت هم ټول افغانان ګوري، چي په اتلسو ورځو کي حتا د جرګي د مشر او اداري هيأت د غوره کولو مسأله هم حل نه سوه ؛ موږ ټول د سر په سترګو ګورو، چي دحکومت غړي او لوی دولتي چاروکي عملاً د پردو استخباراتي سازمانو په چوپړ کي ولاړ دي؛ په مخدره موادو او نورو تورو معاملو کي هم د لوړو حکومتي کارکوونکو او ډول ډول زورمندانو لاس لرل هر چا ته ځرګند دي؛ په دولتي دستګاه کي چور، خيانت، فساد او بې کفايتي داسي حد ته رسېدلي دي، چي کرزی هم، بالاخره له پردو استخباراتي سازمانو څخه په تورو‌کځوروکي دچټلو پيسو پر اخيستلو اعتراف کوي؛ دا خبره هم له امکانه ليري نه ده، چي د غلو، مجرمينو، او ملي خاينانو بېلابېلي ډلي ټپلي د خپلو بشري ضد ګټو د خونديتوب له پاره د پارلمان يا لويي جرګي په نامه زموږ په وياړلي او سرلوړي هيوادکي د امريکايي کاوبايانو د دايمي اډو پر جوړولو هم د تأييد مُهر کښېږدي؛ لنډه دا چي د بېوزلو افغانانو ژوند له داسي زياتېدونکو ناورينو اوکړاوو سره مخامخ دئ، چي نه يې د شپږ ځلوېښتو هيوادو پوځي ايتلاف او نه يې هم د هغو لاسپوځی، فاسداو بې کاره حکومت د حلولو څه لاره او ګودر موندلای سي . په خواشينی سره، زموږ په هيواد کي داسي نه ده، چي په کرېڼ کي د ورستي داني په غورځولو سره نوري مېني له خرابی او خوساکېدو ژغورل کېدای سي . په دې بدمرغه کرېڼ کي لاندي باندي ټولي مېي ورستي دي؛ نو ځکه يې بې غورځولو هيڅ چاره نسته .

د درد او احساس خاوندان بايد له ځانو و پوښتي، چي دا توري او غملړلي ورځي به تر کله رواني وي؟

په وسله وال مقاومت کي شاملي ډلي اوګوندونه خو د افغاني مسألو د حل له پاره بې انتحاري بريدونو، ړندو بمونو، تروريستي عملياتو، وسلو او باروتو بل څه نهويني .که په انتحاري بريدونو، تروريستي عملياتو، وسلو، باروتو او چاودنو مسأله حل کېدای سوای، اوس به وخت وطن ګل و ګلزار وای . ټولو ته مالومه ده، چي د وسله وال مقاومت جنګياليو په تېرو لسو کالوکي له هيڅ راز وسله وال اقدام څخه ډډه نه ده کړې؛ خو بيا هم په هيواد کي د خپلواکی، ملي واکمنی، سولي، سوکالی او نېکمرغی هيڅ نښه نښانه نه ليدله کېږي . دردناکه او خواشينوونکي خو لا داچي، هر څونه وسله وال مخالفين د وسلي او باروتو پر منطق ټينګار کوي، په هغه اندازه امريکايي کاوبايان او د هغو سياسي- نظامي متحدين دالقاعدې، طالبانو او نورو وسله والو ډلو د خطر په پلمه، دا وران هيواد په وينوکي لمبوي؛ د خلګو کورونه، دوکانونه، باغونه او نور جايدادونه نړوي؛ په نيمه شپه يې په کورونوکي تلاښی کوي؛ ښځي اوکوچنيان يې په سپو داړي . . . ( دکندهار په ارغنداو، ژړی او پنجوايي ولسواليو کي يې د « هيلي » په نامه ورانکار، انساني ضد او وحشيانه عمليات وروستی مثال دئ) دا حقيقت هم ټولو وطندارانو ته لمر غوندي روښانه دئ، چي وسله وال مخالفين هم هره ورځ په خپلو انتحاري بريدونو او ړندو ګوزارونو سره، څونه بې ګونا افغانان ياني خپل ورونه اوخوندي په وينو لړي؛ د بېوزلی کورونه او جايدادونه يې په کنډوالو اړوي؛ او د غريبی يوه ګوله ډوډی يې له خولي راباسي .

وسله وال مقاومت به هغه مهال خوندکولای، چي ټولي واکي يې زموږ غيرتمنو افغانانو په لاس کي وای؛ په ليکو کي يې د نارينه وو او ښځو په ګډون د هرې عقيدې، دين، مذهب، فکر، ژبې اوسيمي اوسېدونکي افغانان ولاړ وای؛ په ګوليو او باروتو يې يوازي او يوازي د پردو يرغلګرو او د هغو د مالوم الحاله جنايتکارانو ځيګرونه سوري کېدای؛ په يوه کلام کي داسي وسله وال مقاومت،چي د خپلو وطندارانو او عزيزانو په غم، غمجن اوپه ښادی، ښاد وای . مات دي سي هغه لاسونه، چي پر خپلو بې ګونا ورونواوخوندو پورته کيږي؛ او خپل کور ته په خپله اور اچوي .

په دې ډول ګورو چي وژنه، ترور، ورانکاري، ګواښل او بېرول په هيڅ ډول د مسألي حل نه دئ . د مسألي انساني، اسلامي او افغاني حل دا دئ، چي زموږ په ګډ تاريخي کور- ګران افغانستان کي د دې وحشتناکي جګړې اورونه مړه سي؛ افغانان يو پلا بيا د خپل هيواد واک او اختيا ر تر لاسه کړي؛ او په ګډه د هغه بيا ودانولو ته ملاوي وتړي . البته، دا ستر ملي او انساني ارمان يوازي په وسلو، ږندو وژنو او ورانييو، مذهبي افراطيت او کولتوري تحجُر نه ترلاسه کيږي .

که څه هم خلګ له يرغلګرو پوځونو او مزدورو واکمنانو څخه کرکه لري؛ او حاضر دي له هغو سره په مخامخ مبارزه کي تر خپلو وينو او سرونو تېر سي؛ مګر بيا هم د هغه تاريک، ړانده او تړلي وسله وال مقاومت تر شا نه دربږي، چي د سولي، آزادی، يووالي او سوکالۍپيغام نه لري . خلګو د اوسنيو وسله والو ډلو ښه او بد ټول ليدلي دي . له دې امله يې په پخوانۍ مطلقه ښه بيا واکمن کېدو ته زړونه نه ښه کوي . شک نسته، چي وسله والو مخالفينو له بهرنيو پوځونو اومزدورو واکمنانو سره په خپل وسله وال مقاومت کي ډېري قرباني ورکړي دي؛ د هغو زړورتيا، حماسي او کارنامي پر خپل ځای د هېرېدو نه دي؛ دا خبره هم ريشتيا ده، چي د وسله وال مقاومت په جنګياليو او مشرانوکي دکابل د خاينواو فاسدو واکدارانو يو پر سلمه فساد نسته؛ سره له دې هم، د هغوی اوسنی سياسي، فرهنګي او فکري تګلاره د بري هيڅ چانس نه لري . البته، نه په دې خاطر چي امريکايان او د هغو ملګري مخالفت ور سره لري، بلکي په دې خاطر چي خلګ آزادي، سوکالي، ترقي او پرمختګ غواړي . دا حقيقت بايد هيڅکله هېر نه کړو، چي په مذهبي افراطيت او تشدُد سره د خلګو انساني غوښتني نسي پوره کېدای . ايراني اخوندان  به هم هرومرو نن ياسبا د آزادی، برابری، عدالت او ترقۍ له پاره د ايراني ولس روا غوښتنو ته غاړه ږدي،که نه دوی هم له کانو ځانونه نسي ژغورلای، چي په تېرو څو اوونيو کي د« بن علي » او« مُبارک » په رژيمونو وسوې . دا خبره هم بايدپه ورين تندي ومنو، چي خلګ د استبداد، زورزياتي او بې عدالتي په وړاندي تل تر تله غلي نه کښېني . استبداد، زورزياتی او بې عدالتي که سور رنګ ولري، که تور يا زرغون، ټول يو شی دي؛ نو ځکه بايد په روښانه تګو سره ووايو، چي ړوند، تاريک او ولسي ضد وسله وال مقاومت خلګوته هيڅ نسي ورکولای . ښايي يوه ورځ د زور يا معاملي له لاري سياسي واک ته هم ورسيږي؛ خو دا سياسي واک به هيڅکله د خلګو او هيواد په ګټه نه وي .

د وسله وال مقاومت ترسرزوری اوکمزوری چي تېر سو، په اوروپا، امريکا او نورو بهرنيو هيوادوکي د ملي او روښانفکري غورځنګونوحال هم ټولو افغانانو ته څرګند دئ . سازماني خوروړتيا، سياسي بېلوالی، فکري اختلافونه، خپله درنه او د نورو سپکه، غټي خبري او لږ عمل د دې غورځنګونو او سازمانو تر ټولو لويي ځانګړتياوي دي .  له دې کبله، دې ډول ګوندونو او سازمانو ته هم په نيژدې راتلونکي کي د افغانستان د ژغورني خاصه تمه نسي کېدای .

د همدې دلایلو له مخې نو افغانان یوازې د خپلو دردمنو، ویښو او ازادۍ بخښوونکو ځوانانو د حماسو او معرکو لاره څاري . زما په قاصر نظر خوکه د هیواد شمله وراو منور ځوانان په خپل ټینګ او پیاوړي هوډ سره د روانو غملړلو پېښنو تګلورۍ وانړوي، په د ې وران کورکي د وینو او اوښکو، لمبو او لوخړو د روانې وحشتناکي لړۍ د ختمېدو هیڅ څرک نه ښکاري . الله سبحانه و تعالی هم په خپل سپېڅلي کلام کي همدا حُکم کړی دئ : « لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ » ( ۱۱: ۱۳ ) .

البته، د افغانستان د ولسي پاڅون جوړېده او برى، نه د یوې ورځي خبره ده؛ او نه د یوه، دوو یا درو کسانو خبره . د دې تکاملي بهیر په پوختیا او بشپړتیا کي به هرومرو وختونه ولګېږي . هره څونه چي د هیواد بېلابېل قومونه اود ټولني مختلف قشرونه له دغه راز ملي او ولسي پاڅون سره ملګرتوب وکړي، په هغه اندازه به د افغانانو د غم او کړاو ورځي لنډیږي . دا خبره روښانه نه ده، چي دا فغانانو ولسي پاڅون به څنګه، چیري او د کوم غیرتي افغان په آزادۍ بخښوونکي چغه پیل کیږي؛ خو دا خبره ښکاره او روښانه ده، چي د ظلمونو، زورزیاتییو، ناروااوو او بې عدالتیيو په وړاندي خلک تل ترتله چپ نه کښېني . زموږ خلک څه ښه وايي : « چي تنګ سي نو په جنګ سي . » ګډ دوښمن، ګډ درد او ګډ ارمان به ډېر ژر ټول ویښ، دردمن او هیوادپال افغانان د یوه پراخ ملي او ولسي پاڅون په لیکو کي سره را غونډکړي .

په پای کي د افغانانو سیاسي بلوغ ته د رسېدو په لار کي باید د سیاسي ګوندونو، ملي، اجتماعي او دیني شخصیتونو، پوهانو، لیکوالو، شاعرانو، هونرمندانو، ژورنالیستانو او نورو منورو قشرونو ستر او ارزښتناک رسالت هم هیڅکله له یاده و نباسو. په حقیقت کي همدا مخکښ شخصیتونه دي، چي کولای سي زموږ په ملي او ولسي پاڅون کي د یووالي، خوځښت او پیاوړتیا روحیه ایجاد کړي . هر څونه چي د هیواد پوه، هوښیار، زړه سواند او منلي شخصیتونه دسیاست له ډګره لیري ګرځي، په هغه اندازه افراطي ډلو ټپلو ته میدان تش پاتیږي . دا چي افغانستان له لسیزو لسیزو راهیسي د بېلابېلو افراطي ډلو د ناسمو سیاستونو په سبب د اور په لمبوکي سوځي، تر ټول لوی دلیل یې د عملي سیاست له میدان څخه د ملي او ولسي شخصیتونو ګوښه پاتېدل دي . دا خبره هم باید زیاته کوو، چي د خلګو د ویښولو، روښانولواو یووالي په کار کي د روښانفکرانو اوملي شخصیتونو رسالت یوازي په خبرو، شعرو ویلو او مقاله لیکلو نه بشپړیږي . دا ستر رسالت سرښندونو او قربانییو ته هم اړتیا لري . که زموږ ریښتیني ملي او ولسي شخصیتونه، پوهان او منورین په دې لار کي عملي ګامونه پورته کړي، انشاء الله د افغانانو د کړاونو او دردونو غملړلي شپه به هم ډېر ژر سبا سي .

د هیواد د وسله وال مقاومت خپلواک، غیرتي او زړه سواند جنګیالي هم باید د خپلو خلګو د دغه راز ملي او ولسي پاڅون تر شا ودریږي . که څوک په افغانستان کي د پردو د ایستلو، د سولي او امنیت د ټینګېدو،د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او مځکنۍ بشپړتیا د تأمین او د یوه آزاد او سوکاله افغانستان د جوړولو له پاره جنګیږي، د مبارزې ډګر یې له یوه سوله ییز، پراخ بنسته ملي او ولسي پاڅون په لیکو کي درېدل دي . باید ټول په دې پوه سوو، چي د تشو لاسو، دلایلو او خبرو مبارزه تر بمونو، باروتو، زورزیاتي، ګواښلو او ببرولو، ډېره ځواکمنه او غښتلي ده .

په ګران افغانستان کي د همېشنۍ سولي، امنیت، آزادۍ، ترقی او عادلانه نظام د بري په هیله .